# لاربښود | د عصري غلامۍ کمېټې ته سپارنه

**د نیو ساوت ویلز پارلمان د عصري غلامۍ کمیټه غواړي له هغو خلکو څخه واوري چې په ژوند کې د عصري غلامۍ تجربه لري.**

## عصري غلامي څه ته وايي؟

**'عصري غلامي'** جدي غیرقانوني عملونه بیانوي چیرې چې د یو فرد ازادي زیانمنه کیږي او د بل فرد یا سوداګرۍ د شخصي یا سوداګریزې ګټې لپاره کارول کیږي.

افراد نشي کولی د ګواښونو، تاوتریخوالي، جبر یا فریب له امله دا حالتونه رد یا پریږدي. استثمار کیدی شي بېلابېلې بڼې ولري، په شمول د مالي او جنسي استثمار.

## د کمیټو په اړه

د نیو ساوت ویلز پارلمان د خلکو استازیتوب کوي، قوانین جوړوي او د نیو ساوت ویلز حکومت د حساب ورکولو لپاره مسئول ګرځوي. د دې دندو په ترسره کولو کې د مرستې لپاره، پارلمان یو شمیر کمیټې لري، په شمول **د عصري غلامۍ کمیټه** چې د پارلمان له دواړو دولتي او غیر دولتي غړو جوړه شوې ده.

دا کمېټې څېړنې ترسره کوي چې یوه ځانګړې مسئله په تفصیل سره څېړي او د نیو ساوت ویلز حکومت ته د پالیسیو، قوانینو یا دولتي خدمتونو د بدلون په برخه کې سپارښتنې وړاندې کوي.

***مهرباني وکړئ په یاد ولرئ، د عصري غلامۍ کمیټه نشي کولی د انفرادي قضیو په اړه د قانوني اقدام تحقیق یا وړاندیز وکړي.***

## څنګه کولی شم زه یوه سپارنه وکړم؟

د عصري غلامۍ له کمېټې سره ستاسو د تجربې شریکول کولی شي د کمیټې سپارښتنو ته د احتمالي اصلاحاتو په اړه خبر ورکړي چې د عصري غلامۍ خطرونو او په نیو ساوت ویلز کې د استحصالي کړنو سره مبارزه وکړي.

تاسو کولی شئ د عصري غلامۍ ویب پاڼې له لارې یوې ځانګړې څېړنې ته په لیکلې بڼه خپله سپارنه وکړئ.

دا ستاسو د نظرونو او / یا تجربو په اړه یو لیک، کیسه یا ډیر مهم سند کیدی شي اوسي

دا کېدای شي کټور اوسي:

- خپل ځان او خپل شالید معرفي کړئ
- واضح، لنډ او اړونده اوسئ
- هغه څه تشریح کړئ چې تاسو فکر کوئ کلیدي مسئلې دي
- د حل لارې یا سپارښتنې وړاندیز کړئ
- په واضح ډول وواياست که تاسو غواړئ خپله تجربه په شخصي ډول له کمیټې سره شریکه کړئ.

مهرباني وکړئ موږ سره اړیکه ونیسئ که ستاسو د خوښې ژبه له انګلیسي پرته بله ژبه وي.

د سپارلو لپاره ټاکل شوې نیټه وګورئ، چې د څېړنې پر ویب پاڼې شتون لري. که تاسو نشئ کولی تر ټاکل شوې نېټې دا وسپارئ نو تاسو کولی شئ د تمدید غوښتنه وکړئ.

## زما له سپارنې وروسته څه پېښیږي؟

سپارنې معمولا د کمیټې په ویب پاڼه کې خپریږي او کیدای شي په راپور کې ورته اشاره وشي.

تاسو باید په خپلې سپارنې کې په واضح ډول وواياست، که چېرې تاسو غواړئ چې ستاسو نوم، ستاسو د سپارنې ځانګړې برخې یا ستاسو ټوله سپارنه محرمه وي (په شمول د دلیلونو چې ولې).

## نور معلومات

د اوسنیو څېړنو په اړه د معلوماتو یا سپارنې لپاره ویب پاڼه وګورئ .

د ژباړې د مرستې یا د سپارنې نېټې د تمدید لپاره د کمیټې له کارمندانو سره اړیکه ونیسئ.

(02) 9230 3081

www.bit.ly/ms-committee

modern.slavery@parliament.nsw.gov.au

PARLIAMENT NSW